بسم الله الرحمن الرحيم

## د فلسطين په جنين ښار کې وروستۍ خونړۍ پېښه

د نبيل ابو رودينه په مشرۍ د فلسطيني اداري يوې کمېټې بيړنۍ غونډه وکړه او په جنين کې يې د يهودي ښکېلاکګرو عاموژنه او بريدونه وغندل. يادې کميټې له خلکو څخه د سوليز مقاومت غوښتنه وکړه او دغه راز يې د فلسطيني اداري او يهودي دولت ترمنځ د هر راز امنيتي همغږيو د هڅو د درېدو اعلان وکړ. دغې کمېټې همدارنګه له امنيت شورا او نړيوالې جنايي محکمې څخه په دې تړاو د بيړني هدايت غوښتنه وکړه (فلسطين تلويزيون، ۲۰۲۳م کال، د جنوري ۲٦مه).

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت پنجشنبه اعلان وکړ چې د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير، انتوني بلينکن به د روانې اونۍ په پای کې مصر، «اسرايلو» او لوېديځې غاړې ته سفر وکړي؛ دا اعلان په داسې حال کې کېږي چې امريکا په تېرو دوو لسيزو کې په لوېديځه غاړه کې د «اسرايلو» تر ټولو خونړيو عملياتو وروسته د تاوتريخوالي د زياتېدو په اړه اندېښنه ښودلې. د بلينکن سفر څو اونۍ وړاندې پلان شوی و؛ خو پنجشنبه سهار په لوېديځه غاړه کې د بې ځايه شوو پر کمپ د اسرايلو تر بريد وروسته، چې د فلسطينيانو په خبره د يوې ٦١ کلنې ښځې په ګډون نهه تنه پکې وژل شوي، داسې ښکاري چې په دغه سفر کې به پر ياد بريد د بحث اړخ پياوړی وي. اسرايلي پوځ د همغې ورځې په پای کې هم يو ۲۲ کلن فلسطينی ځوان په ډزو ووژه. (واشنګټن پوسټ، ۲۰۲۳م کال، د جنوري ۲٦مه)

د فلسطينيانو وينه ارزانه ده ... ارزانه توی شوې، ارزانه تيرې پرې شوی، ارزانه يې سپکاوی شوی او ارزانه له پامه غورځول شوې. د جنين د پنجشنبې ورځې بريد کې د يوې سپين سرې په ګډون نهه تنه ووژل شول او لسګونه نور ټپيان شول چې د څلورو روغتيايي وضعيت ډېر خراب دی. له دغه بريد سره په دغه مياشت کې د شهيدانو شمېر ۳۰ تنو ته ورسېد. په دغه عاموژنه کې د يهودي دولت پوځ په روغتون کې اوښکې بهوونکي ګاز وکاراوه؛ پر کورنو يې بريدونه وکړل او ويې سوځول. اسرايلي پوځ، د سړک پر سر پر ولاړو موټرو ټانګونه خېژوي؛ په يوه موټر کې يو کس هم ناست و.

د شاباک (د اسرايلو د کورني امنيت اداره) غړو د «اسرايلو دفاعي ځواک» په جامه کې په رڼا ورځ په جنين کمپ کې د فلسطينيانو پر کورونو بريد وکړ، کورونه يې وسوځول او ځانګړې کسان يې په نښه کړل.

له يوې خوا د مسلمانانو حکام پخپله له حساب ورکولو پرته د مسلمانانو عاموژنه کوي او له بلې خوا نړيواله ټولنه پر فلسطين د بريد په وخت کې سترګو ته لاس نيسي او داسې ښيي چې ګواکي هېڅ يې نه دي ليدلي.

د فلسطيني اداري او روغتيا وزارت غندنې څه ګټه کوي؟

له نړیوالې جنایي محکمې څخه د کوم غبرګون تمه کېږي!؟

خلک په غوسه دي؛ ښوونځیو د دغه جنایت پر وړاندې اعتصاب کړی؛ سوپرمارکېټونه او وزارتونه تړل شوي او د فلسطین په لویو ښارونو کې ناڅاپي لاریونونه وشول.

که د فلسطین خلک پرېښودل شي، د اشغالګرو پر وړاندې به په ډېره زړورتیا مبارزه وکړي. که د دغو جنایتاګرو او وحشي رژیمونو سترګې او غوږونه (استخباراتي څارنه) نه وای، زموږ امت به چا له غچ اخیستو راګرځولی وای؟ په حقیقت کې، که څه هم د هغوی څېرې او نومونه زموږ پشان دي، خو له موږ څخه نه دي؛ هغوی منافقین، خاینان او اجنټان دي.

سره له دې چې د عربي رژیمونو او نورو اسلامي هېوادونو لخوا، چې د دغه ښکېلاکګر دولت د له منځه وړلو وس لري، په وار وار نهیلي شوي یو؛ خو د فلسطین د خلکو غږ ریښتینی دی او د ازادۍ دغه غږ ته باید په اسلامي پوځونو کې مخلص کسان ځواب ووایي؛ نه دا چې د امریکا بهرنیو چارو وزیر د لانجې ختمولو لپاره لوېدیځې غاړې ته راشي او پر فلسطیني اداري غږ وکړي چې د فلسطینیانو پاڅونونه آرام کړي. له ټولو لانجو او سیاسي خبرو سره سره، دا ټولې هڅې د دې لپاره دي چې اوسنی وضعیت ارام وساتل شي او پرې نه ږدي چې نور هم کړکېچن شي، ځکه چې امریکا اوس له هغه حالت سره د مقابلې وس نه لري. که چیرې امریکا او فلسطیني اداره د دوی غوسه کمه نه کړي؛ د فلسطینانو خوځښتونه او جهادي ډلې ښایي د عمومي فضا تر اغېزې لاندې راشي اود جنین پېښې غچ واخلي.

مسلمانان اوس تر بل هر وخت ډېر خلافت ته اړتیا لري او غواړي یې، تر څو پر اسلامي امت د ښکاره بریدونو مخه ونیسي او په سپېڅلې خاوره کې دغه د سرطان دانه، یهودي دولت، له بېخه وباسي؛ له دې سره به میندې نور د خپلو بچیانو غم نه ته نه کېني.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## منال بدر

**۲۰۲۳م، د جنوري ۲۷مه**

**۱۴۴ هـ.ق کال د رجب ۵مه**